مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شکیبا اصف لور

۲۰۲۶/۱۰/۱۲

# غزل

د اوبو غونډې بې رنګه یم جانانه
دنیا ښکله ده زه ښکله یم جانانه

زه خو ستا د دیدن خیر له تانه غواړم
زه خو تاپسې ملنګه یم جانانه

له ساه ګانو نه مې وړم ځي د زهرو
بې خوشبو او بې لونګه یم جانانه

زه یم ستا له توقوع له معیار پورته
ارادو نه دې هم دنګه یم جانانه

اوس مې هاغه اوه رنګې، رنګ کې نشته
زه هماغه شوخه شنګه یم جانانه

ته منکر د شکیبا له نومه نشې
زه ولاړه ستا په ننګه یم جانانه

شکیبا اصف لور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ